



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# انجینر محب الرحمن « خطیبي »

د نشرنیټه : 2 جولای 2017 م

# الـهام

یوه ورځ صوفی ته یو سړی راغی او له هغه نه یی غوښتنه وکړه چی ورته د زدکړی اجازه ورکړي .
حکیم ورته وویل :
ډیر ښه خو دا ووایه چی څه شي دی ته و هڅولی چی زدکړه وکړی ؟ له پاځه دی کوم الهام تر لاسه کړی؟
سړي په ځواب کی وویل :
نه نه الهام نشته . زه یواځی غواړم زدکړه وکړم .
حکیم وویل :
خیر چی داسی خبره ده ، نیم ساعت لپاره بهر کوڅی ته ووځه، کیږي درته الهام راشي .
سړی بهر ته ووت. هلته سخت باران اوریده او دی ټول لوند شو . خلکو چی د دیوال څنډی ته یی ځانونه نیولي ول هک حیران ول او دی سړي ته یی کتل ، چی ولی دا لیونی په دی باران کی د کوڅی مینځ کی ولاړ دی. ولی کوم بل عاقلانه کار یی پیدا نه کړ...
نیم ساعت وروسته کله چی دا سړی له قهره خوټیده حکیم دننه ځانته وبله او ترینه یی پوښتنه وکړه :
نو څنګه ؟ تاته کوم الهام له پاسه راغی؟ .
سړي په ډیر قهر ځواب ورکړ :
کوم الهام ؟ زه لکه لیونی باران لاندی ولاړ ووم . او ټول لوند شوم .
حکیم موسکی شو او په ځواب کی یی وویل :
ولی ته وایی چی تاته الهام ندی راغلی ؟ ته پوه شوی چی لیونی یی . همدومره کافي دی چی زدکړی پیل کړو ...

***

محب الرحمن « خطیبي »

www.said-afghani.org بازګشت به صفحه اصلی